## نړۍ څه ډول په امریکا پورې وتړل شوه؟

## (ژباړه)

امریکا په خپل واقعي قدرت سره د نړۍ زبرځواک ګڼل کېږي. دا په تاریخ کې یوازینی زبرځواک دی، چې دا ډول قدرت لري. که یې د روم او فارس له امپراطوریو سره پرتله کړو، نو هغوی زبرځواک نه، بلکې یوازې سیمه ییز قدرتونه وو. د خلافت دولت هم یو سیمه ییز قدرت و. اوس ټوله نړۍ د امریکا په کنټرول کې ده. امریکایان د نړۍ پر هر څه واکمن دي. دغه راز پر اسلامي نړۍ هم نفوذ لري. دلته یوازې پر دې بحث نه کوو چې امریکا ولې پر نړۍ حاکمه شوه، بلکې دا هم څېړو چې څه ډول پرې حاکمه شوه.

### د امریکا نږدې تاریخ ته یوه لنډه کتنه

د دویمې نړیوالې جګړې په پای ته رسېدو سره انګیستان، فرانسې او نورو اروپایي قدرتونو په نړۍ کې ډېرې مستعمرې له لاسه ورکړې. د لومړۍ نړیوالې جګړې له پیله امریکا د اروپا ناوړه حالت لیده او د دویمې نړیوالې جګړې په پای ته رسېدو سره ډاډمنه شوه، چې اروپایي قدرتونه به له دغې ستونزې څخه د راوتو توان ونه لري. دغه وخت امریکا په دې پوه شوه، چې د اروپا د انحطاط لپاره نړیوال ډګر ته د راوتو وخت دی.

امریکا د دواړو نړیوالو جګړو په لومړیو کې یوازې دغه پېښې له خپلې قارې څخه کتلې او دا یې غوره ګڼله چې د یوه نندارچي په څېر پاتې شي او پر خپل داخلي اقتصاد تمرکز وکړي. امریکا له صنعتي انقلاب وروسته اقتصادي پرمختګ ته پام واړاوه او د صنعتي تاسیساتو پر جوړولو یې پیل وکړ. سره له دې چې تر همغه وخته د مخ پرودې هېوادونو په کتار کې وه. که څه هم امریکا په دویمه نړیواله جګړه کې مداخله وکړه؛ خو انګیزه یې تر ډېره دا وه، چې د جاپان د امپراطورۍ پر وړاندې د خپل ځان دفاع وکړي. امریکا په ۱۹۴۴ـ ۱۹۴۵م کلونو کې په دویمه نړیواله جګړه کې مداخله وکړه. په دغه وخت کې یې پوځي ځواک دا توان پیداکړی و، چې د اروپا د ملاتړ لپاره متحدین (المان، ایټالیا او جاپان) وځپي. د دویمې نړیوالې جګړې په پای کې د امریکا صنعت د اروپا له صنعت سره د سیالۍ توان پیداکړ او د جاپان صنعت یې له کمزورۍ سره مخ کړ. دغه قضیه د امریکا لپاره طلایي فرصت و، څو نړیوال ډګر ته راووځي او خپل هغه لوی ستراتیژیک پلان پلی کړي، چې دغه هېواد د کلونو لپاره په قدرت کې وساتي.

د ستراتیژیکو پروګرامونو په ځانګړې توګه د سړې جګړې د ستراتیژۍ جوړوونکی جورج کنان، د پالیسیو د طرحې د ۲۳مې شمېرې په څېړنه کې بیانوي: «موږ د نړۍ تقریباً ۵۰ سلنه پانګه او ٦,۳سلنه نفوس لرو... په داسې حال کې باید له موږ سره څوک کینه او نفرت ونه کړي. زموږ اصلي دنده په راتلونکي پړاو کې دا ده، چې د اړیکو یوه

نوې طرحه جوړه کړو، ترڅو موږ ته له دغه ناسم دریځ څخه د ملاتړ اجازه راکړي... د دغې چارې د پرځای کولو لپاره باید موږ د بشري حقونو، د ژوند د معیارونو او د ډېموکراتیک کولو په څېر خیالي موخو څخه ډډه وکړو. دغه خیالي شعارونه به موږ له کاره وباسي او دا زموږ لپاره مناسبه ده.»

(۱) دا د امریکا لپاره یو مناسب وخت و، چې د خپلو اړتیاوو د پوره کولو په موخه د خپلې لوبې قوانین طرحه کړي او داسې اړیکې ورغوي چې امریکا په راتلونکي کې برلاسې کړي.

لومړی: د دویمې نړیوالې جگړې په پایله کې ټوله اروپا ړنگه شوه. امریکا په دې پوهېده چې د اروپا اقتصادي جوړښت تر دوی لوی دی؛ ځکه د امریکا په پرتله یې هم ښارونه لوی او هم یې ډېر پوه کسان دلودل. امریکا په دې پوهېده، که چېرې اروپا یوازې پرېښودل شي، ځان به له ټولو ویجاړیو وژغوري او په بریالیو او شتمنو هېوادونو به بدله شي. په دې توگه به په نیږدې راتلونکي کې د امریکایي پانگوالو او شرکتونو پر وړاندې جدي گواښ رامنځته کړي. د ۱۹۴۸ - ۱۹۵۱م کلونو په بهیر کې د مارشال د طرحې پر اساس له اروپا سره د مرستې په موخه ۱۲ میلیارده ډالر پور ورکړل، چې له مخې یې د امریکا درېیمه برخه صادرات اروپایي هېوادونو وپېرل. دغې معاملې امریکا ته ډېره گټه وکړه، ځکه د هغې په واسطه یې اروپا په خپل نفوذ کې وساتله.

دویم؛ د امریکا نوي نړیوال نظم د خپلو اقتصادي گټو لپاره په نړۍ کې ځانگړي ځایونه رسم کړل. المان او جاپان د صنعتي تخصص په لړلو سره کاري ځواک گڼل کېدل. داسې انگېرل کېده چې فکر کېده په راتلونکي کې به دغه هېوادونه د امریکا لپاره د لوړ قیمت په تولید سره وکارول شي. د نړۍ درېیمې درجې هېوادونه په طبیعي سرچینو او د ټیټ قیمت کارولو سره پېژندل شوي وو، چې د امریکا له صنعتي کمربند (د ډېرو صنعتي شرکتونو شتون) سره یې مرسته کوله، څو په لږ لگښت سره خپل تولیدات ډېر کړي. امریکا خپلو اقتصادي گټو ته په پام سره د نړۍ بېلابېلو برخو ته بېلابېل نومونه غوره کړل.

درېیم: ډالر په ۱۹۷۱م کال کې د اروپایانو په غوښتنه د طلا پر ځای معیار شو. دغه کار د امریکا په گټه نه و، ځکه چې د ډالر ارزښت راټیټېده. دغه راز امریکا کافي طلا نه درلوده، څو ډالر بېرته پرې را وگرځوي. نو ولسمشر نیکسون د طلا معیار مکمل ختم کړ، چې په دې سره اروپا او د نړۍ نور هېوادونه د تل لپاره په ډالر پورې وتړل شول. اوسمهال ۴۰سلنه نړیوالې راکړې ورکړې او معاملې په ډالر کېږي. دا د امریکا د رښتیني زبرځواکېدو د هڅو یو ښه گام و، چې په دغه لاره کې یې د دوی گټې او قدرت خوندي کړ.

کمونېزم په دغه برخه کې کوم جدي گواښ نه گڼل کېده. لکه څنگه چې له ډیموکراسۍ سره پرتله کېږي، چې کمونېزم به د هېوادونو د باثباته کېدو مخه ونیسي. یو له دغو هېوادونو څخه ایټالیا و. (۲) د ۱۹۴۸م کال په بهیر کې کمونیستي رژیم له یوې روا ډیموکراتیکې لارې څخه د قدرت اخیستو په حال کې و؛ نو له همدې امله امریکا

له پخواني فاشيست رژیم سره مرسته وکړه، څو په واک ته رسولو کې يې په اېټاليا کې بې ثباتۍ ته لاره هواره کړي. ډیموکراسي او فارملېت پال او د فاشیست ضد رژیمونه هېڅکله د امریکا لپاره په گټه نه وو؛ ځکه ملت له دې لارې پر خپلو سرچینو واک او خپلواکي پیداکوله، امریکایي شرکتونه یې نه پرېښودل او پر امریکایي پانگوالو یې محدودیت لگاوه.

وودرو ویلسون، هغه کس چې د دولتونو لپاره یې د خود مختارۍ (خپلواکۍ) پروگرام جوړ کړ. هغه پوهېده، که چېرې دولتونه قدرت تر لاسه کړي، نو دغه کار به دوی ته سیاسي اراده ورکړي، چې په پایله کې به د دوی د اقتصادي ثبات او خپلواکۍ لامل شي؛ خو د هغوی پر ملي سرچینو باندې د برلاسي یادونه یې ونه کړه. نو له همدې امله د دمینیکان پر جمهوري او د هائیتي پر جزیرو باندې په داسې حال کې برید وشو، چې سرتېرو زرگونه کسان مړه او چاپېریال یې خراب کړ. کله یې چې په دغه سیمه کې وحشي رژیمونه او بې ثباته سیاسي نظامونه رامنځته او د امریکایي شرکتونو په واسطه یې کنټرول کړل، نو وروسته دوی دا سیمه پرېښودله. وودر ویلسون د دې لپاره د خودمختارۍ (خپلواکۍ) موضوع رامنځته کړه، چې پر اروپایي مستعمېرو د اروپایانو واک او نفوذ ختم کړي. دوی پر جوړښتونو د اروپا تسلط له منځه یوسي. که څه هم هغه پوهېده، چې دا موضوع به د وخت په تېرېدو د امریکا له امپریالیستي گټو سره په ټکر کې شي؛ خو هغه پرېکړه کړې چې خپلو ضد او نقیص خبرو ته به دوام ورکوي.

په دې کې هم ډېرې خبرې دي، چې امریکا څه ډول پر ټوله نړۍ کوده تاوې پیل کړې دي. په ځانگړې توگه د نړۍ پر دریېمې درجې هېوادونو لکه: ایران ۱۹۵۳م، گواتمالا ۱۹۵۴ او ۱۹۶۳م کلونو کې؛ هغه وخت چې «کندي» د یوې پوځي کوده تا په وسیله د ډیموکراسۍ د مخنیوي لپاره هغه هېواد ته راوگرځېد. دغه راز برازیل په ۱۹۵۴م او شیلي په ۱۹۷۳م کال کې. (۳) کله چې په یوه هېواد کې انقلاب رامنځته کېږي، امریکا د ډیموکراسۍ د ثبات د مخنیوي په خاطر چې انقلاب ختم شي، د هغوی په چارو کې مداخله کوي. په دغه دلیل چې ډیموکراسي کپیټالېزم ته گواښ دی او هغوی یو د بل مترادف نه دي. ارسطو په خپل کتاب «سیاست» کې دې ته ورته موضوع بیانوي: «یا نابرابري کمه کړئ یا هم ډیموکراسي.»

(۴) دوی هغه نظام ښه بولي، چې د الیگارشي او ډیموکراسي تر منځ وي؛ ځکه دواړه په هر حالت کې ستونزې را ولاړوي. غرب لاتر اوسه دلته د یوه داسې سیاسي نظام په راوستو کې ناکام دی، چې د منلو وړ وي. ان په امریکا کې هم لېبرال ډیموکراتیک ارزښتونه یوازې د ځانگړو خلکو لپاره وو او دي. اوس هم لېبرال دېکتاتوري نظام دی. هېڅکله کامله او خالصه ډیموکراسي نه وه، ځکه د ځانگړو اشخاصو لپاره خالصه ډیموکراسي تر ناخالصې ډیموکراسۍ ډېره وحشي وه. دولتونو د ازادۍ او نیکمرغۍ مصنوعي بېلگې رامنځته کړې، چې ډېر محدودیتونه لري او غواړي خلک پرې وغولوي او کم عقل یې کړي.

په لندن کې د رویال نړیوالو چارو انستیتیوت له خوا په څېړل شوي او مطالعه شوي کتاب «امریکایي نظامیان» کې داسې راغلي دي: «کله چې امریکا د ډیموکراسۍ لپاره چاپلوسي کوي، اصلي ژمنه یې د کاپیټلیستي نظام د خصوصي پانګې اچونې لپاره ده. کله چې د پانګوالو حقونو ته ګواښ وي، ډیموکراسي باید له منځه ولاړه شي، خو که دا حقونه وساتل شي، نو قاتلین او شکنجه کوونکي به هغه ښه وبولي.» (5)

## اسلامي نړۍ په نامعلوم حالت کې

امریکا په اسلامي هېوادونو کې د بهرنیو هېوادونو پوځیان د اقتصادي، ټولنیزې او سیاسي بې‌ثباتۍ لپاره کاروي. وروسته هغوی له ډېرو ستونزو سره ملکي وګړو ته پرېږدي، چې د ځان لپاره مشر وټاکي یا هم ځینې وخت پخپله امریکا د هغوی خراب حالت ته په کتو سره مشر ورته ټاکي. په پایله کې دغه حاکمان د خپل هېواد د ثبات لپاره، چې د پیسو له نړیوال صندوق څخه پور واخلي، د امریکا پر لوري منډې وهي. نو له پوځي مسوولیت وروسته د پیسو نړیوال صندوق د هغه هېواد ټول واک په لاس کې اخلي او په امریکا پورې یې تړي. په دغه حالت کې نظامي هڅې ته اړتیا نشته، ځکه د پیسو نړیوال صندوق پروګرام پر مخ وړي، خو که خلک بیا را پورته شي، هغه مهال یو ځل بیا امریکا د بې ثباتۍ لپاره له نظامي عملیاتو څخه کار اخلي او بېرته په همغه توګه دوام ورکوي ... ایا دغه حالت درته اشنا ښکاري او که نه؟

په دغه کار د امریکا ځانګړي بهرني متحدین په واک کې پاتې کېږي. دغه راز سیمه ییز ځانګړي کسان هم په دغې دوستۍ کې ونډه لري؛ په داسې حال کې چې ۹۰ سلنه بې‌ګناه ملکي وګړي له دغه حالته ځوریږي. امریکا په دغه ډول منځنۍ اسیا، لاتین امریکا او افریقا تر خپل نفوذ لاندې راوستې دي.

امریکا په منځنۍ اسیا کې داسې دېکتاتوران او پاچاهان ټاکي، چې د هغې سیمې طبیعي سرچینې د دوی د متحدینو په واک کې ورکړي. د هغوی د مزدورۍ او غاړې اېښودنې په پایله کې ورته د منڼې لپاره ځینې شیان ورکوي. امریکا د الفتاح سیسي په شان دېکتاتور څخه په پوره توګه راضي ده، چې د بیان، عقیدې او لېبرال ـ سیکولار ازادي پر خلکو تپي. د سیسي سرتېري د هغو کسانو په شکنجه او ځورولو لاس پورې کوي، چې د اسلام حاکمیت غواړي او یا هم په هغوی پورې بنسټیز تړاو لري. په داسې حال کې چې امریکا له دغو مظلومانو سره د مرستې هېڅ لېوالتیا نه لري. مثلاً، امریکا د مصر د انقلاب پر مهال د سیسي مرستې ته ور ودانګل، څو هغه په واک کې پاتې شي او د پاڅون په ځپلو کې ورسره مرسته وکړي.

د پاکستان رول د کشمیر په ناورین کې په همدې ډول دی. عمران خان د مودي له خوا د ۳۷۰مې مادې د لغوه کولو او تندو خبرو په غبرګون کې ډېرې کمې هڅې کړې دي. په حقیقت کې دغه مزدور حاکمان د امریکا کسان دي او د امریکا ګټو ته په رسېدو کې له دغه هېواد څخه مرسته کوي، لکه د پیسو نړیوال صندوق چې یو استعماري

بنسټ دی. عمران خان د پیسو له نړیوال صندوق څخه پور اخلي او دغه هېواد نور هم د دغه صندوق پر رسۍ تړي. د پیسو نړیوال صندوق ډېری سیاستونه: د بهرنۍ مستقیمې پانګونې د ترویج لپاره قانون جوړونه یا (FDI)، د نرخ د ارزښت ټیټول، امریکا ته د صادراتو ډېرول او د خصوصي کولو لپاره یې اسانتیاوې برابرول؛ چې دغه کار به په راتلونکي کې پاکستان سخت زیانمن کړي. دا ټول سیاستونه د امریکا متحدینو ته د پانګې د ډېرېدو او ساتلو لپاره مرسته کوي. حکومت خصوصي کېدل له اندازې ډېر پراخه کړي دي؛ خو بل خوا بیا خلک له درنو مالیو ځوریږي. دغه ستراتیژي، پوروړی حکومت تل په پور کې ساتي.

دا ښکاره ده، چې امریکا ځینې هېوادونه د پانګې په وسیله په ځان پورې تړلي دي، ترڅو د نړۍ د یوازینې زبرځواک اقتصادي او پوځي قدرت ته سر خوږی جوړ نه کړي. د نړۍ د نفتو ټوله سوداګري په ډالرو کېږي، ډېری بندیزونه د ډالرو له لارې لګول کېږي او لیبرال سازمانونه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د امریکا د ځانګړو پانګوال کسانو ملاتړ کوي. مثلاً: بیلدربرګ او تریلاتیرال کمیسیون د شلمې پړۍ په اوبایمو کلونو کې پر پرمختللو ملتونو د نړیوال صندوق د سیاستونو په تپلو سره وتوانېد، چې د امریکا پر صنعتي متخصصینو (جاپان او اروپا) د نفتي ناورین ناوړه اغېز را ټیټ کړي.

دا د دې لامل شو چې د صنعت نړۍ یعنې جاپان او اروپا د امریکا د ډالر نظام سربېره، د ډیموکراتیکې، ملتپالې او انقلابي لېوالتیا په له منځه وړلو سره په دې وتوانېدل، چې د لسیزو لپاره په نړۍ (په ځانګړې توګه درېیمه نړۍ) کې خپل ثبات وساتي. امریکا د پیسو نړیوال صندوق په وسیله د ډېرو تګلارو د صنعتي کېدو مخه نیولې ده، پرته له هغو چې اړینې یې ګڼلې؛ د مثال په ډول: امریکا په ۲۰۰۳م کې د ډیموکراسۍ په پلمه عراق اشغال کړ او د انګلیس په ملګرتیا یې د هغوی د تېلو اداره په خپل لاس کې واخیسته. دا د پوره واک د تر لاسه کولو یوه برخه ده، چې امریکا هڅه کوي د هغې په واسطه اقتصادي، سیاسي، پوځي، تېکنالوژیکي ولکه او د انرژۍ ډګرونه کنټرول کړي.

امریکا د نړۍ هېوادونو ته وایي چې خپل نرخونه مو وساتئ، خو له بله اړخه خپله د نړۍ د ځینو برخو د له منځه تلو لامل شوې ده؛ چې څوک د امریکا د واکمنۍ پر وړاندې ګواښ ونه اوسي. هغه څوک چې ځان له دغې کړۍ څخه بهر کړي، په پایله کې به بېرته امریکا ته راګرځي. لکه څنګه مو چې په دې وروستیو کې ولیدل، چې عمران خان غواړي د چین ـ پاکستان اقتصادي دهلېز (CPEC) پربېږدي او په امریکا پورې په دې موخه ځان وتړي چې هغوی یې اقتصادي او ١٦F جنګي الوتکو نظامي ملاتړ وکړي او د دې ترڅنګ د مالي اقداماتو ځانګړې ډله (FATF) هم لغوه کړي. پاکستان پوه شوی؛ چې چین د امریکا په پرتله په اقتصادي، پوځي او په نورو برخو کې د ملاتړ توان نه لري؛ ځکه امریکا نړیوال نظم داسې تنظیم کړی، چې د پانګوالۍ په نړیوال نظام کې یې د ټولو ځای ثابت ساتلی دی.

## په منځني ختیځ کې د قدرت توازن

د اقتصادي وحشت په وسیله په سیمه کې د هېوادونو په یو او بل پورې له تړلو وروسته، امریکا له اسرائیلو څخه د منځني ختیځ په ختیځو سیمو کې د انډول ساتلو لپاره ګټه اخلي. هغوی په دې ډول په سیمه کې خپلې اقتصادي ګټې ساتي. امریکا د خپلو ګټو د ساتلو په بدل کې له اسرائیلو سره مرستې کوي؛ لکه: لکه د اردن د سیند او غزې د سیند غربي څنډې. له ۱۹۶۷م راهیسې لیبرالان او جمهوري غوښتونکي دواړه لوري امریکایان د اسرائیلو په تاسیس کې له یو بل سره له اندازې ډېر متحد وو. لکه د عرب پر ختیځ اورشلیم واک ټینګول. که څه هم په نړیواله توګه عامه افکار هغه غندي، خو امریکا لا تر اوسه له دغه هېواد سره د پیسو او په سیمه کې د واکمنېدو په برخه کې مرسته کوي، ترڅو د خپلې خوښې کړنې ترسره کړي. همداراز په دغه سیمه کې یو افراطي مسیحي عنصر هم شته؛ یا په بل عبارت هغه صلیبیان او اسراییل چې امریکا اجازه ورکوي، څو د فلسطیني مسلمانانو پر وړاندې خپله وحشیانه دښمني وکړي.

دغه ډول قضیه د ایران او عربستان په اړه هم روانه ده، چې د امریکا په وسیله په سیمه کې د قدرت د انډول په موخه کارول کېږي او همدا د سیمې د نازک او ناوړه حالت ښکارندویي کوي. د ایران د ښي او کیڼ لوري دواړه ګاونډیان یعنې پاکستان او اسرائیل هستوي وسلې لري. ایران له همدې امله د هستوي وسلو جوړولو هڅه کوي؛ که څه هم امریکا فشار پرې راوړي او غواړي چې ایران د هستوي وسلو جوړول ودروي. که ایران د هستوي وسلو پر جوړولو بریالی شي، نو اسراییل د تهدید احساس کوي. دغه شخړه به د فارس په خلیج کې د سیمې د نفتو د سوځېدو لامل شي، چې په پایله کې به د نفتو بیه لوړه شي او په نړیوال اقتصاد به اغېزه وکړي. د قدرت انډول یوازې پر منځنۍ اسیا نه دی تپل شوی، بلکې د نړۍ په نورو سیمو کې هم پلی کېږي. مثلاً ناټو د امریکا په وسیله اروپایي ملتونو ته د قدرت د وېش په توګه کارول کېږي. که څه هم دا په اسلامي نړۍ کې د امریکا د نفوذ ساتلو د څرنګوالي یو انځور دی.

## پایله

له دې دایرې څخه د وتو یوازینۍ لاره دا ده، چې له تکتیکي ایډیولوژیک بدلون څخه کار واخیستل شي؛ هغه بدلون چې نړیوالو ته به رښتینې سوله راولي. هغه ایډیولوژي چې د انسانانو غریزې او عضوي اړتیاوې به په سمه توګه اشباع کړي؛ په پوره توګه متفاوت اقتصادي او سیاسي نظامونه به رامنځته کړي، چې د خپلو ټولو ښاریانو امنیت، سوله او عدالت به وساتي او پر اوسني پانګوال نظام د بریالي کېدو توان هم لري. نو اسلام یوازنۍ ایډیالوژي ده چې د دغو غوښتنو د لاسته راوړلو توان لري. کمونېزم د تاریخ اشغال دانۍ ته اسلام داسې یوه ایډیولوژي ده، چې پر دغو مطالبو برلاسې ده. کمونېزم د تاریخ کندې ته ولوېد او کپیټلېزم د انسانانو یوازینۍ هیله ده، چې دغه هیله هم د له منځه تلو په حال کې ده.

د واقعیت د بدلون لپاره ډېری خلک له دغه نظام څخه نشي تښتېدلی؛ ترڅو چې پر ځای يې يو باارزښته او قوي نظام راشي او د هغه ځايناستی شي. پر دې سربېره اسلام په سيمه کې د نظامي انډول د منطق مفهوم د ایډیولوژۍ د قدرت په وسيله چلنجوي. اسلام د فارس او روم قدرتونه په ګونډو کړل؛ که څه هم د مدينې جغرافيوي موقعيت د دې وړ نه و. اسلام به يو ځل بیا راشي او نړۍ به ازاده کړي، په ډول چې ۱۴۰۰سوه کاله مخکې ازاده کړې وه. په دې تمه چې اسلام به ډېر ژر د زبرځواک په حيث د تاريخ په کتاب کې ثبت شي.

**﴿هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ﴾**

[توبه: 33]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی هغه ذات دی چې د خلکو د لارښوونې لپاره يې رسول او حق دين راولېږه، څو هغه پر ټولو دينونو برلاسی کړي؛ که هر څو د مشرکينو نه خوښيږي.*

**ليکوال: محمد مصطفی**

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**ژباړن: حبيب الله**